د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد
لنډیز

داکتر انتونیو جیستازی او علی محمد علی
چنګاښ ۱۳۹۴

# د افغانستان د لیسو سیاسی کول

## ۱. سریزه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد (AREU) په ۲۰۱۰ کال کې د افغانستان په پوهنتونونو کې د سیاسي فعالیتونو په اړه یو ریپوټ جوړ کړ. ریپوټ څرګندوي چې له سیاسی اړخه د فعالو محصلینو په کتار کې، اسلامی بنسټپال جوړښتونه ډیر دي. دغه ټول جوړښتونه، سره له دې چې ډیر فعال یې هم په څرګنده توګه په افغانستان کې وسله واله مبارزه نه تاییدوی، خو په مختلفو کچو له اوسنی حالت سره مخالفت لري. د دغې پروژې د پلې کولو په جریان کې د څیړنې ډلې حتی په لیسو کې د سیاسی فعالیتونو نښې نښانې ولیدلې. یوې سرچینې څرګنده کړه چې حتی د کابل په ښوونځیو کې هم د افراطیت ستري بیلګې لیدل کیږي. د یوې تعقیبي او راتلونکې پروژې نظریه په همدې وخت کې رامینځ ته شوه، او تر هغه چې ښه پرمختګ وکړي یوه موده یې ونیوله.

په افغانستان کې په لیسو کې سیاسی فعالیت کومه نوې خبره نه ده. په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ کلونو کې د هیواد نوو سیاسي ګوندونو، ښوونځي او پوهنتونونه د ښه جلب او جذب لپاره غوره ځایونه ګڼل. نوو چپ پالو او اسلام پالو ګوندونو په خپلو کتارونو کې ډیر شمیر ښوونکي هم درلودل چې د هغوی لاس موندنه یې زده کوونکو او ښوونځیو ته آسانه کوله. سربیره پر دې په داسې هیواد کې چې کارګري طبق یا لویې اتحادیې شتون نه درلود، او د داسې حکومت په شرایطو کی چې هڅه ئی وکړه سیاسی ګوندونه رامینځ ته کړی په لیسو کې د سیاسی ګوندونو کار کول منطقي بریښي.

د دغې لیکنې د سرته رسولو بل دلیل دا دی چې د ۲۰۱۰ کال څیړنې د افراطی او بنسټ پالو جوړښتونو شمیر د ښوونځیو او پوهنتونونو په چاپیریال کې ډیر ښودلی دی. له همدی کبله اوسنی پروژه هم غواړي په لیسو کې د سیاسی کیدلو ، افراطیت او بنسټ پالنې کچه وارزوی. هغه سروې چې په دې رپوټ کې ور باندې بحث شوي د یوې لویې پروژې یوه برخه ده چې د افغانستان په ښوونځیو کې د سیاسی فعالیت کیفي اړخ څیړي ، چې له دې لیکنې وروسته به خپره شي.

د موضوعاتو لړلیک

۱. سریزه ........ ۱
۲. میتودولوژی ........ ۲
۳. په لیسو کې د سیاسی فعالیت خپریدل او د هغه جریان ........ ۲
۴. د سیاسي فعالیت د ډولونو ورکړل شوی ریپوټ ........ ۲
۵. په ښوونځیو کې فعالې سیاسي ډلې ........ ۹
۶. مدني ټولنې ........ ۱۵
۷. د لویانو اغیزه ........ ۱۷
۸. په ښوونځیو کې بی انظباطی ........ ۱۹
۹. پایله: ........ ۲۱

د لیکونکو په اړه

داکترانتونیوجیستازی د لندن د کینګس پوهنتون (KLC) پروفیسور دی. هغه "په افغانستان کې د قانونیت ساتنه" په ۲۰۱۳، او په ۲۰۱۱ کال کې "د تهدید او اجبار هنر" په شمول یو لړ مقالې، لیکنې او کتابونه لیکلی دی. داکتر جیوستازی اوس اوس په افغانستان کې امنیتی ستونزې د بغاوت، اردو او پولیسو په شمول تر څیړنی لاندې لري.

علی محمد علی یو خپلواک څیړونکی او ارزوونکی دی. نوموړی د بنسټپالو اسلامی ډلو، د افغانستان سیاسی اقتصاد، دولت، شورش او طالبانو په اړه تخصص لري. علی د مشاور په توګه له یو لړ ملی او نړیوالو موسسو سره کار کړی او په یو شمیر څیړنیزو خپرونو کې یې دنده تر سره کړې ده.

# ۲. میتودولوژی

دې سروې ۱۸ ولایتونه او ټول ۱۳۲ ښوونځي تر پوښښ لاندې نیولي دي. د څیړنې پلان جوړوونکو د ځایونو (ولسوالیو) او د هغو کسانو د شمیر ټاکل په غاړه درلودل چې د مرکو لپاره یې زده کوونکي او ښوونکي پیدا کول. ښوونځي مخکې له مخکې ټاکل شوي نه وو. په ټولیزه توګه ۴۳۱ زده کوونکي او ښوونکي چې غوښتل یې پوښتنو ته ځواب ورکړي سروې شول چې په هغو کې ۲۸ ښوونکي او ۴۰۳ زده کوونکي وو. مرکه ورکوونکي په عمدي ډول د بیلګو او نمونو پر بنسټ د ټاکونکو له خوا په دې توګه غوره شوي وو چې لومړی له ټاکل شوو مرکه ورکوونکو سره چې مرکې ته حاضر وو ، مرکه سرته رسیدلې وه. پوښتنو د مرکې کیدونکو له نظریاتو او افکارو سره کار نه درلود ، بلکې د هغوی په ښوونځیو کې یې د سیاسی فعالیتونو د شتون او همدا ډول د زده کوونکو د بی انظباطی په اړه معلومات راټولول. سیاسی فعالیتونه تر نن پورې د افغانستان په لیسو کې منع دي، نو ځکه په دې هکله پوښتنې کول پاروونکي او لمسوونکې بریښی. له مرکه ورکوونکو څخه پرته له دې چې د سیاسي فعالیت په اړه کوم تعریف ورکړل شي، د سیاسی فعالیتونو په هکله پوښتنه کیدله، په دې توګه د هغوی ځوابونه د سیاسي فعالیت په اړه د هغو پخپلو تعریفونو ولاړ وو. په هر حال، د هغوی د لومړنیو ځوابونو پر اساس، د سیاسي فعالیت د ډولونو په اړه نورې تفصیلي پوښتنې لکه د ښوونځی سیاسی کیدل یا د سیاسی ګوندونو لپاره تبلیغ، په ټولټاکنو کې د نوماندانو لپاره انتخاباتی مبارزه، یا د سیاسی موضوعګانو لپاره د احتجاج یا خواشینۍ ښودل، رامینځ ته کیدل.

ددې څیړنې د موخې لپاره لویې ښاري ټولنې لکه کابل، هرات، مزار شریف، جلال آباد ، د ښارونو په کتار کې راځي. د ولایتونو او ولسوالیو مرکزونه د ښارګوټو په کتار کې شمیرل کیږي.

# ۳. په لیسو کې د سیاسی فعالیت خپریدل او د هغه جریان

څیړنې په لیسو کې د سیاسي فعالیت ډیرې پراخې بیلګې پیدا کړي (۱ الف، ۱ ب، ۲ الف او ۲ ب جدولونه). په ملی کچه، ۹۱.۸ سلنه مرکې ورکوونکو یادونه وکړه چی په لیسو کې دوی پخپله د سیاسي فعالیتونو ځینی ډولونه لیدلي دي. نورو بیا له ځینی نورو څخه چې په ښوونځۍ کې یې د سیاسی فعالیتونو په اړه خبرې کولې ځینی شیان اوریدلي دي (۲ الف او ۲ ب جدولونه). د مرکه کیدونکو ټیټه سلنه چې په لوړو ښوونځیو کې د یو ډول سیاسی فعالیت مستقیم شاهدان دي د بلخ په ولایت کې ۶۷.۹ سلنې ته رسیږي. په نیمایي ولایتونو کې ټولو مرکه کیدونکو وویل چې هغوی دا ډول فعالیتونه پخپلو سترګو لیدلي دي (کندهار، هلمند ، زابل، کابل، تخار، پروان، بغلان، بدخشان او هرات). ډیرو نورو زده کوونکو د (لیدلو پر ځای) له نورو زده کوونکو څخه اوریدلي دي چې په ښوونځیو کې یې ، د بیلګې په توګه په بلخ کې ۷۵ سلنه، سیاسی فعالیتونه جریان لري. په دې ډول ویلای شو چې په ټولیزه توګه دا سې ښکاري چې په ټولو سروې شوو ښوونځیو کې ، سره له دې چې سیاسي فعالیتونه په تخنیکی توګه غیر قانوني دي، یو لړ سیاسي فعالیتونه روان دی. په دې څیړنې پسې راتلونکی مل رپوټ په لیسو کې د سیاسی فعالیت د منع کیدلو د وړتیا او ښه والي په هکله یوه برخه لري.

په ښوونځیو کې ثبت شوی سیاسی ګوندونه او فعالیتونه ډیر پیاوړی او قوي نه دي، او دا اریانوونکي نه ښکاري ځکه چې په ښوونځۍ کې سیاست په رسمی توګه منع دی.

*۱. الف: د سیاسي فعالیتونو وخت، چې د مرکه ورکوونکو له خوا لیدل شوي وي*

| ولایتونه | پوښتنه: د دغو سیاسی فعالیتونو د ننبو لیدل څه وخت پیل شول؟ | | | | | د ځوابونو شمیر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | په پخوانۍ میاشت کې | په پخوانیو ۲-۳ میاشتو کې | په تیر شوی کال کې | له یوه کال څخه ډیر پخوا | نه ځواب | |
| زابل | ۰,۰ | ۰,۰ | ۱۴,۳ | ۸۵,۷ | ۰,۰ | ۲۳ |
| کندهار | ۰,۰ | ۲,۹ | ۲۰,۰ | ۷۷,۱ | ۰,۰ | ۳۵ |
| هلمند | ۰,۰ | ۵,۹ | ۵,۹ | ۸۸,۲ | ۰,۰ | ۱۷ |
| غزنی | ۰,۰ | ۰,۰ | ۳۱,۳ | ۵۰,۰ | ۱۸,۸ | ۱۲ |
| پکتیا | ۰,۰ | ۱۰,۰ | ۱۰,۰ | ۱۰,۰ | ۷۰,۰ | ۲۲ |
| لوګر | ۰,۰ | ۰,۰ | ۶,۳ | ۸۱,۳ | ۱۲,۵ | ۱۲ |
| وردک | ۰,۰ | ۵,۰ | ۳۰,۰ | ۴۵,۰ | ۲۰,۰ | ۲۰ |
| د کابل ولسوالۍ | ۲,۶ | ۲۵,۶ | ۵۳,۸ | ۲۰,۵ | ۰,۰ | ۴۰ |
| د کابل ښار | ۰,۰ | ۴,۵ | ۳۶,۴ | ۵۰,۰ | ۹,۱ | ۲۲ |
| کاپیسا | ۰,۰ | ۲۷,۳ | ۴۵,۵ | ۱۸,۲ | ۹,۱ | ۱۲ |
| پروان | ۰,۰ | ۰,۰ | ۳۳,۳ | ۵۵,۶ | ۱۱,۱ | ۱۲ |
| تخار | ۰,۰ | ۳۰,۰ | ۵۶,۷ | ۱۳,۳ | ۰,۰ | ۳۰ |
| کندز | ۰,۰ | ۲۳,۳ | ۵۳,۳ | ۱۶,۷ | ۶,۷ | ۳۰ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بغلان | ۳۰,۴ | ۲۱,۷ | ۴۷,۸ | ۳۰,۴ | ۰,۰ | ۳۰ |
| بدخشان | ۵,۳ | ۴۷,۴ | ۴۲,۱ | ۱۰,۵ | ۰,۰ | ۲۱ |
| بلخ | ۰,۰ | ۳۹,۳ | ۲۸,۲ | ۰,۰ | ۳۲,۱ | ۲۲ |
| هرات | ۰,۰ | ۲,۳ | ۱۸,۸ | ۷۵,۰ | ۰,۰ | ۱۲ |
| کنر | ۰,۰ | ۰,۰ | ۱۲,۵ | ۸۱,۳ | ۲,۳ | ۱۲ |
| لغمان | ۰,۰ | ۰,۰ | ۱۲,۵ | ۲۲,۵ | ۲۵,۰ | ۳۲ |
| ننګرهار | ۰,۰ | ۰,۰ | ۱۹,۰ | ۵۷,۱ | ۲۳,۸ | ۲۱ |
| کليوالي ښوونځي | ۰,۰ | ۱۲,۷ | ۲۳,۰ | ۵۴,۰ | ۱۰,۳ | ۱۳۲ |
| د ښارګوټو ښوونځي | ۳,۱ | ۱۲,۲ | ۳۱,۱ | ۴۴,۳ | ۵,۳ | ۲۲۷ |
| د ښار ښوونځي | ۰,۰ | ۱۲,۸ | ۲۵,۲ | ۵۹,۰ | ۲,۲ | ۷۸ |
| ټول ښوونځي | ۱,۲ | ۱۴,۲ | ۲۷,۸ | ۴۹,۸ | ۲,۳ | ۴۳۱ |

*۱ ب جدول: د سياسی فعاليتونو بيا بيا پيښيدنه، چې د مرکه ورکوونکو له خوا ليدل شوي.*

| ولايتونه | پوښتنه: د سياسی فعاليت پيښې څو ځلې ليدل شوي دي؟ | | | | | د ځوابونو شمير |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | يوازې يو وار | ۲-۳ ځلې | ۴-۱۰ ځلې | له ۱۰ ډير | نه ځواب | |
| زابل | ۹,۵ | ۱۴,۳ | ۴,۸ | ۷۲,۲ | ۰,۰ | ۲۳ |
| کندهار | ۲,۹ | ۲,۹ | ۸,۲ | ۸۵,۷ | ۰,۰ | ۳۵ |
| هلمند | ۰,۰ | ۰,۰ | ۰,۰ | ۱۰۰,۰ | ۰,۰ | ۱۷ |
| غزنی | ۰,۰ | ۱۲,۵ | ۲,۳ | ۲۲,۵ | ۱۸,۸ | ۱۲ |
| پکتيا | ۱۰,۰ | ۰,۰ | ۱۰,۰ | ۸۰,۰ | ۲۰,۰ | ۲۲ |
| لوګر | ۰,۰ | ۰,۰ | ۰,۰ | ۸۷,۵ | ۱۲,۵ | ۱۲ |
| وردک | ۰,۰ | ۲۰,۰ | ۱۰,۰ | ۵۰,۰ | ۲۰,۰ | ۲۰ |
| د کابل ولسوالۍ | ۲۲,۵ | ۳۵,۰ | ۴۰,۰ | ۲,۵ | ۰,۰ | ۴۰ |
| د کابل ښار | ۰,۰ | ۴,۵ | ۳۱,۸ | ۵۴,۵ | ۹,۱ | ۲۲ |
| کاپيسا | ۰,۰ | ۱۸,۲ | ۷۲,۷ | ۹,۱ | ۰,۰ | ۱۲ |
| پروان | ۰,۰ | ۴۴,۴ | ۳۳,۳ | ۲۲,۲ | ۰,۰ | ۱۲ |
| تخار | ۰,۰ | ۲۰,۰ | ۵۰,۰ | ۳۰,۰ | ۰,۰ | ۳۰ |
| کندز | ۰,۰ | ۳۰,۰ | ۳۲,۷ | ۳۲,۷ | ۲,۷ | ۳۰ |
| بغلان | ۱۰,۰ | ۳۰,۰ | ۳۲,۷ | ۲۳,۳ | ۰,۰ | ۳۰ |
| بدخشان | ۱۰,۰ | ۲۵,۰ | ۵۰,۰ | ۲۰,۰ | ۰,۰ | ۲۱ |
| بلخ | ۰,۰ | ۲۵,۰ | ۴۲,۹ | ۰,۰ | ۳۲,۱ | ۲۲ |
| هرات | ۰,۰ | ۲,۳ | ۱۸,۸ | ۷۵,۰ | ۰,۰ | ۱۲ |
| کونړ | ۲,۳ | ۰,۰ | ۰,۰ | ۸۷,۵ | ۲,۳ | ۱۲ |
| لغمان | ۰,۰ | ۰,۰ | ۲,۳ | ۲۲,۵ | ۳۱,۳ | ۳۲ |
| ننګرهار | ۰,۰ | ۰,۰ | ۱۹,۰ | ۵۷,۱ | ۲۳,۸ | ۲۱ |
| کليوالي ښوونځي | ۲,۴ | ۱۰,۳ | ۳۱,۰ | ۴۸,۴ | ۷,۹ | ۱۳۲ |
| د ښارګوټي ښوونځي | ۳,۱ | ۱۵,۸ | ۳۲,۸ | ۴۹,۱ | ۵,۳ | ۲۲۷ |
| د ښار ښوونځي | ۱,۳ | ۱۰,۳ | ۲۵,۲ | ۲۰,۳ | ۲,۲ | ۷۸ |
| ټول ښوونځي | ۲,۵ | ۱۳,۲ | ۲۷,۸ | ۵۰,۹ | ۵,۲ | ۴۳۱ |

*۲ الف جدول: د سیاسي فعالیتونو وخت ، چې مرکه کوونکو له نورو څخه اوریدلي دي*

| ولایتونه | پوښتنه: تاسو د دغو سیاسي فعالیتونو د ښو په هکله اوریدل څه وخت پیل کړي دي؟ | | | | | د ځوابونو شمیر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | په تیره میاشت کې | په تیرو ۳-۲ میاشتو کې | تیر کال | له یوه کال څخه پخوا | نه ځواب | |
| زابل | ۰,۰ | ۰,۰ | ۲۱,۷ | ۷۸,۳ | ۰,۰ | ۲۳ |
| کندهار | ۲,۹ | ۰,۰ | ۸,۸ | ۹۱,۲ | ۰,۰ | ۳۵ |
| هلمند | ۰,۰ | ۵,۹ | ۵,۹ | ۸۸,۲ | ۰,۰ | ۱۷ |
| غزنی | ۰,۰ | ۶,۳ | ۳۱,۳ | ۴۳,۸ | ۱۸,۸ | ۱۶ |
| پکتیا | ۲۰,۰ | ۰,۰ | ۰,۰ | ۸۰,۰ | ۲۰,۰ | ۲۲ |
| لوګر | ۰,۰ | ۰,۰ | ۱۲,۵ | ۸۷,۵ | ۰,۰ | ۱۶ |
| وردک | ۰,۰ | ۵,۰ | ۳۰,۰ | ۴۵,۰ | ۲۰,۰ | ۲۰ |
| د کابل ولسوالۍ | ۵,۳ | ۲۸,۹ | ۵۰,۰ | ۲۱,۱ | ۰,۰ | ۴۰ |
| د کابل ښار | ۰,۰ | ۰,۰ | ۴,۵ | ۲۷,۳ | ۵۹,۱ | ۲۲ |
| کاپیسا | ۰,۰ | ۱۸,۲ | ۵۴,۵ | ۱۸,۲ | ۹,۱ | ۱۲ |
| پروان | ۰,۰ | ۳۳,۳ | ۵۵,۶ | ۱۱,۱ | ۰,۰ | ۱۶ |
| تخار | ۰,۰ | ۳۳,۳ | ۶۰,۰ | ۶,۷ | ۰,۰ | ۳۰ |
| کندز | ۰,۰ | ۳۳,۳ | ۵۰,۰ | ۱۰,۰ | ۶,۷ | ۳۰ |
| بغلان | ۰,۰ | ۲۶,۷ | ۵۶,۷ | ۱۶,۷ | ۰,۰ | ۳۰ |
| بدخشان | ۵,۰ | ۷۰,۰ | ۲۰,۰ | ۱۰,۰ | ۰,۰ | ۲۱ |
| بلخ | ۰,۰ | ۴۶,۴ | ۲۸,۶ | ۰,۰ | ۲۵,۰ | ۲۲ |
| هرات | ۰,۰ | ۰,۰ | ۳۷,۵ | ۵۶,۳ | ۶,۳ | ۱۶ |
| کونړ | ۰,۰ | ۰,۰ | ۱۲,۵ | ۸۱,۳ | ۶,۳ | ۱۶ |
| لغمان | ۰,۰ | ۰,۰ | ۱۸,۸ | ۷۵,۰ | ۶,۳ | ۲۶ |
| ننګرهار | ۰,۰ | ۰,۰ | ۲۵,۰ | ۷۵,۰ | ۰,۰ | ۲۱ |
| کلیوالي ښوونځي | ۰,۸ | ۱۵,۹ | ۲۶,۲ | ۵۳,۲ | ۴,۰ | ۱۲۶ |
| د ښارګوټي ښوونځي | ۱,۸ | ۱۸,۹ | ۳۲,۵ | ۴۴,۳ | ۲,۶ | ۲۲۷ |
| د ښار ښوونځي | ۰,۰ | ۱۵,۴ | ۲۶,۹ | ۵۵,۱ | ۲,۶ | ۷۸ |
| ټول ښوونځي | ۱,۲ | ۱۷,۴ | ۲۹,۶ | ۴۸,۸ | ۳,۰ | ۴۳۱ |

*۲ ب جدول: د سیاسي فعالیتونو تکرار، چې له دریمو کسانو (دریمګړو) څخه د مرکه ورکوونکو له خوا اوریدل شوي دي*

| ولایتونه | پوښتنه: د سیاسي فعالیت پیښې چې بیا بیا لیدل شوي دي؟ | | | | | د ځوابونو شمیر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | یوازې یو ځل | ۱۳,۰ | ۴-۱۰ ځلې | له ۱۰ ډیر | نه ځواب | |
| زابل | ۴,۳ | ۵,۷ | ۸,۷ | ۷۳,۹ | ۰,۰ | ۲۳ |
| کندهار | ۰,۰ | ۰,۰ | ۱۱,۴ | ۸۲,۹ | ۰,۰ | ۳۵ |
| هلمند | ۰,۰ | ۱۸,۸ | ۰,۰ | ۱۰۰,۰ | ۰,۰ | ۱۷ |
| غزنی | ۰,۰ | ۰,۰ | ۱۲,۵ | ۵۰,۰ | ۱۸,۸ | ۱۶ |
| پکتیا | ۸,۳ | ۰,۰ | ۰,۰ | ۷۵,۰ | ۱۶,۷ | ۲۲ |
| لوګر | ۰,۰ | ۱۵,۰ | ۱۸,۸ | ۸۱,۳ | ۰,۰ | ۱۶ |
| وردک | ۰,۰ | ۳۷,۵ | ۱۵,۰ | ۵۰,۰ | ۲۰,۰ | ۲۰ |
| د کابل ولسوالۍ | ۲۲,۵ | ۰,۰ | ۳۵,۰ | ۵,۰ | ۰,۰ | ۴۰ |
| د کابل ښار | ۹,۱ | ۱۸,۲ | ۴,۵ | ۴۰,۹ | ۴۵,۵ | ۲۲ |
| کاپیسا | ۰,۰ | ۴۴,۴ | ۷۲,۷ | ۰,۰ | ۹,۱ | ۱۲ |
| پروان | ۰,۰ | ۲۰,۰ | ۳۳,۳ | ۱۱,۱ | ۰,۰ | ۱۶ |
| تخار | ۰,۰ | ۳۰,۰ | ۵۰,۰ | ۳۰,۰ | ۰,۰ | ۳۰ |
| کندز | ۰,۰ | ۳۳,۳ | ۳۶,۷ | ۲۳,۳ | ۶,۷ | ۳۰ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بغلان | ۱۰،۰ | ۲۳،۸ | ۴۰،۰ | ۱۲،۷ | ۰،۰ | ۳۰ |
| بدخشان | ۹،۵ | ۳۹،۳ | ۴۲،۹ | ۱۹،۰ | ۰،۰ | ۲۱ |
| بلخ | ۰،۰ | ۱۲،۵ | ۳۵،۷ | ۰،۰ | ۲۵،۰ | ۲۲ |
| هرات | ۰،۰ | ۰،۰ | ۲۵،۰ | ۵۲،۳ | ۲،۳ | ۱۲ |
| کونړ | ۰،۰ | ۲،۳ | ۲،۳ | ۸۷،۵ | ۲،۳ | ۱۲ |
| لغمان | ۰،۰ | ۰،۰ | ۱۸،۸ | ۲۸،۸ | ۲،۳ | ۳۲ |
| ننګرهار | ۰،۰ | ۱۵،۹ | ۴۳،۸ | ۸۷،۵ | ۰،۰ | ۲۱ |
| کلیوالي ښوونځي | ۱،۲ | ۱۵،۸ | ۲۳،۰ | ۵۵،۲ | ۴،۰ | ۱۳۲ |
| د ښارګوټي ښوونځی | ۱،۳ | ۱۵،۴ | ۳۰،۷ | ۴۹،۲ | ۲،۲ | ۲۲۷ |
| د ښار ښوونځی | ۰،۰ | ۱۵،۷ | ۳۲،۱ | ۵۰،۰ | ۲،۲ | ۷۸ |
| ټول ښوونځی | ۱،۲ | ۱۳،۰ | ۲۸،۷ | ۵۱،۴ | ۳،۰ | ۴۳۱ |

ځینو مرکه ورکوونکو څرګنده کړه چې له مرکې څخه پخوا د یوې میاشتې په موده کې یې ډیر لږ داسی فعالیتونه –په ملی کچه ۱.۲ سلنه- لیدلي دي. د نورو ولایتونو په پرتله یوازې په بغلان کې دا سلنه ۳۰.۴ ٪ وه چې ډیره لوړه ښکاري. ډیرو مرکه ورکوونکو څرګنده کړه چې هغه فعالیتونه چې دوی ئې شاهدان وو لږ تر لږه څو میاشتی پخوا وو. په هر حال د سیاسي فعالیت د پیښو په اړه راټول شوي معلومات څرګندوي چې موږ دلته د یو څو استثنايي پیښو په هکله خبرې نه کوو. په ډیرو ولایتونو کې ډیرو مرکه ورکوونکو وویل چې دوی د سیاسی فعالیت تر (۱۰) ډیرو پیښو شاهدان وو. (د سویل ، ختیز او سویل ختیز او همدا ډول هرات، په ټولو سروي شوو ولایتونو کې). په ملی کچه د مرکه ورکوونکو ۵۱.۴ سلنې همدا ډول معلومات وړاندې کړل. حتی په پاتې ولایتونو کې، د مرکه کوونکو لوی اکثریت د سیاسي فعالیت د بې شمیره پیښو د لیدلو معلومات څرګند کړل. په ټولیزه توګه داسې معلومیږي چې په هغو ولایتونو کې چې د یاغیتوب اغیزه ډیره وه په لیسو کې یې د سیاسي فعالیت نښې نښانې ډیرې لیدل کیږي. د هیواد سویل ، ختیځ او سویل ختیځ په دې کتار کې راځي. د زده کوونکو د سیاسي کیدو لوړه کچه د هیواد په شمال ختیځ کې هم لیدل کیږي. دلته له څلورو ولایتونو څخه په درې ولایتونوکې د مرکه کوونکو ۱۰۰ سلنه پخپلو ښوونځیو کې سیاسي فعالیتونه لیدلي دي. باید په یاد ولرو چې کیفی او ژورو مرکو څرګنده کړه (مل ریپوټ ووینئ) چې داسې ډیر پټ فعالیتونه هم شتون لري، چې موندل یې خورا سخت کار بریښي.

دا حقیقت په زړه پورې ده چې په ښارګوټو (۹۴.۷٪) او کلیوالو سیمو کی (۹۱٪) د ښارونو په پرتله (۸۴.۲٪) د لیسو د سیاسي کیدلو کچه لوړه ده (لومړی ګراف).

لومړی ګراف: د سیاسی فعالیتونو پراخیدل چې د مرکه کیدوونکو له خوا لیدل شوي دي



*دویم ګراف: د سیاسی فعالیتونو خپریدل، چې مرکه کوونکو له نورو څخه اوریدلي دي*




# ۴. د سیاسي فعالیت د ډولونو ورکړل شوی رپوټ

د سیاسی فعالیتونو مختلف ډولونه چې د هغو په اړه له مرکه ورکوونکو څخه پوښتنه شوې او ځوابونه ئی ثبت شوي له یوه ولایت څخه بل ولایت ته ډیر توپیر کوي. د سیاسی لیکنو لکه پاڼو ویشل، په ملي کچه د مرکه ورکوونکو د ۲۲.۷٪ له خوا د داسې پاڼو په توګه وپیژندل شوې چې د هغوی په ښوونځي کې توزیع کیږي، خو دا هم ورسره زیاته شوه چې دا پاڼې د هغو ولایتونو د منځنۍ کچې په پرتله لکه بغلان (چې ۴۷٪ ځوابونه یې مثبت وو) ، تخار او په ټولیزه توګه په ختیځو ولایتونو کې ډیرې عامې دي، چې د مرکه کیدونکو یوه دریمه تر ۴۰ ٪ پورې جوړوي. د منظرې په بله خوا لکه پروان کې د داسې سیاسی فعالیت رپوټ نه دی ورکړ شوي، په داسې حال کې چې په کندهار کی د مرکه ورکوونکو له ۱۰ سلنی څخه لږو مثبت ځواب ورانديې کړی دی. په پاتې ولایتونو کې د مرکه ورکوونکو ٪۱۰-۲۰ څرګنده کړه چې له سیاسي پاڼو ویشل د پکتیا او بلخ څخه پرته، چیری چې ۳۰-۲۰ ٪ ځوابونه مثبت وو ، صورت نه دی موندلی (دریم جدول).

دریم جدول: د سیاسی فعالیتونو ډولونه

| ولایتونه | د کوچنیو پاڼو او سیاسي لیکنو ویشل | سیاسی غونډې | اعتصابونه | مشاجرې او بحثونه | فزیکی ټکرونه | جلب او جذب | په دیوالونو باندې لیکنې | له ښوونکو سره د زده کوونکو شخړې | لفظي شخړې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زابل | ٪۱۳,۰ | ٪۳۴,۸ | ٪۰,۰ | ٪۸۷,۰ | ٪۱۳,۰ | ٪۲۹,۲ | ٪۱۳,۰ | ٪۴,۳ | ٪۲۵,۲ |
| کندهار | ٪۸,۲ | ٪۴۸,۲ | ٪۰,۰ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۸,۲ | ٪۹۴,۳ | ٪۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۹۴,۳ |
| هلمند | ٪۱۷,۲ | ٪۲۹,۴ | ٪۵,۹ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۵,۹ | ٪۵۲,۹ | ٪۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۸۴,۲ |
| غزنی | ٪۱۸,۸ | ٪۱۸,۸ | ٪۰,۰ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۵۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۳۷,۵ |
| پکتیا | ٪۲۵,۰ | ٪۸,۳ | ٪۰,۰ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۸,۳ | ٪۲۲,۷ | ٪۸,۳ | ٪۰,۰ | ٪۲۲,۷ |
| لوګر | ٪۱۲,۵ | ٪۲۵,۰ | ٪۰,۰ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۲,۳ | ٪۱۲,۲ | ٪۰,۰ | ٪۴۳,۸ |
| د کابل ولسوالۍ | ٪۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۴۲,۵ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۱۰۰,۰ |
| د کابل ښار | ٪۱۳,۲ | ٪۲۲,۷ | ٪۱۸,۲ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۱۳,۲ | ٪۷۷,۳ | ٪۹,۱ | ٪۱۱,۰ | ٪۷۲,۷ |
| وردک | ٪۱۰,۰ | ٪۲۵,۰ | ٪۰,۰ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۳۰,۰ | ٪۵,۰ | ٪۰,۰ | ٪۸۰,۰ |
| کاپیسا | ٪۱۸,۲ | ٪۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۹۰,۹ | ٪۰,۰ | ٪۳۲,۴ | ٪۹۰,۹ | ٪۲۷,۳ | ٪۹۰,۹ |
| پروان | ٪۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۲۲,۲ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۱۰۰,۰ |
| کونړ | ٪۳۷,۵ | ٪۳۱,۳ | ٪۰,۰ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۱۸,۸ | ٪۰,۰ | ٪۲,۳ | ٪۷۵,۰ |
| لغمان | ٪۳۸,۵ | ٪۲۵,۰ | ٪۰,۰ | ٪۱۰۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۰,۰ | ٪۵۲,۳ |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ننګرهار | ۳۳,۳٪ | ۲۸,۶٪ | ۰,۰٪ | ۱۰۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۴,۸٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۸۱,۰٪ |
| تخار | ۳۳,۳٪ | ۱۳,۳٪ | ۰,۰٪ | ۹۶,۷٪ | ۳۶,۷٪ | ۹۰,۰٪ | ۹۶,۷٪ | ۲۰,۰٪ | ۹۳,۳٪ |
| کندز | ۲۰,۰٪ | ۲۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۹۰,۰٪ | ۶,۷٪ | ۵۶,۷٪ | ۳,۳٪ | ۱۰,۰٪ | ۹۶,۷٪ |
| بغلان | ۴۶,۷٪ | ۰,۰٪ | ۱۰,۰٪ | ۱۰۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۵۶,۷٪ | ۱۰۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۱۰۰,۰٪ |
| بدخشان | ۱۹,۰٪ | ۴,۸٪ | ۰,۰٪ | ۱۰۰,۰٪ | ۱۴,۳٪ | ۷۶,۲٪ | ۸۱,۰٪ | ۱۴,۳٪ | ۱۰۰,۰٪ |
| بلخ | ۲۸,۶٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۸۲,۱٪ | ۱۴,۳٪ | ۳,۶٪ | ۶۰,۷٪ | ۲۸,۶٪ | ۸۵,۷٪ |
| هرات | ۱۲,۵٪ | ۵۰,۰٪ | ۳۷,۵٪ | ۱۰۰,۰٪ | ۲۵,۰٪ | ۱۰۰,۰٪ | ۲۵,۰٪ | ۶۲,۵٪ | ۱۰۰,۰٪ |
| کليوالي ښوونځي | ۱۹,۸٪ | ۲۸,۶٪ | ۰,۰٪ | ۹۶,۸٪ | ۶,۳٪ | ۴۶,۸٪ | ۳۰,۲٪ | ۶,۳٪ | ۱۹,۸٪ |
| د ښارګو ښوونځی | ۲۳,۲٪ | ۱۹,۳٪ | ۱,۳٪ | ۹۶,۹٪ | ۷,۹٪ | ۵۶,۱٪ | ۴۷,۸٪ | ۶,۶٪ | ۸۵,۵٪ |
| د ښار ښوونځی | ۲۵,۶٪ | ۲۵,۶٪ | ۹,۰٪ | ۹۶,۲٪ | ۱۲,۸٪ | ۵۰,۰٪ | ۲۳,۱٪ | ۳۰,۸٪ | ۷۴,۴٪ |
| ټول ښوونځی | ۲۲,۶ | ۲۳,۲ | ۲,۳ | ۹۶,۷ | ۸,۳ | ۵۲,۳ | ۳۸,۲ | ۱۰,۹ | ۶۴,۳ |

برعکس د مخالفتونو ښکاره بڼې لکه اعتراضونه او اعتصابونه ډیر لږ یاد شوي دي: په ملی کچه د مرکه ورکوونکو یوازې ۲.۳٪ څرګنده کړه چې د اعتراضونو شاهد وو. په ۱۵ ولایتونو کې د هیڅ ډول اعتراضونو ریپوټ نه دی ورکړ شوی، په داسې حال کې چې یوازې هراتې مرکه ورکوونکو په نسبي توګه د ډیرو اعتراضونو واقع کیدل یاد کړل (۳۷.۵ ٪). په بغلان او هلمند کې هم د وخت په وخت اعتراضونو د کیدلو ریپوټونه ورانديږ شول. د زده کوونکو له خوا ښوونکو ته د څرګندو اعتراضونو ریپوټونه ډیر لږ څرګند شوي دي. داسې ښکاري چې هرات د اعتراضاتو د واقع کیدلو لپاره لکه څنګه چې ۶۲.۵ ٪ مرکه ورکوونکو روښانه کړه، یوازنی ځای دی. په ۱۱ ولایتونو کې مرکه ورکوونکو د داسې پیښو په اړه څه ؤ نه ویل خو په پاتې شپږو ولایتونو کې له ۴ تر ۲۸ سلنې مرکه ورکوونکو دې پوښتنې ته د هو ځواب ورکړ. اعتراضونه او اعتصابونه تر ډیرې کچې یوازې په ښاري ښوونځیو (۹ سلنې په دې اړه د هو ځواب ورکړ) کې محدود وو، او په کلیوالو ښوونځیو کې د اعتصابونو د واقع کیدو هیڅ ډول ریپوټ شتون نه درلود.

که څه هم د زده کوونکو ترمینځ د سیاسي فزیکي شخړو ریپوټونه لږ څه ډیر وو، خو د مرکه ورکوونکو یوازی ۸.۳٪ په دې اړه معلومات وړاندې کړل. د هغو مرکه ورکوونکو ډیره لوړه سلنه (۳۶.۷٪) چې پخپلو ښوونځیو کی د فزیکي شخړو په شتون خبر وو، د تخار په ولایت کې وو. هرات په دې هکله په مثبت ځوابونو کې د ۲۵٪ هو ځوابونو سره په دوهم مقام کې واقع وو. د ولایتونو نیمائي برخې د فزیکي شخړو په اړه هیڅ معلومات نه لرل. په هر صورت فزیکي شخړې په ښاری ښوونځیو کې (۱۲.۸٪) وې چې د ښارګوټو او دکلیود ښوونځیو په پرتله (۷.۹٪ او ۶.۳٪) لږ ډیر ښکاری.

د نومړو معلوماتو پر ځای په ملي کچه د زده کوونکو ترمینځ لفظی بحثونه او تاوتریخوالی خورا ډیر وو چې د ۶۴.۳٪ ځواب ورکوونکو ځوابونه مثبت وو. په پنځو ولایتونو کې ټولو مرکه ورکوونکو څرګنده کړه چې لفظی شخړې او بحثونه د هغوی په ښوونځیو کې شتون لري او د غزنی ولایت د لفظی شخړو تر ټولو ټیټه کچه (۳۷.۵٪) لرله. د بل هیڅ ولایت سلنه په دې اړه له ۵۰ ٪ څخه لږ نه وه. د لفظی شخړو پیښې په ښارونو او ښارګوټو کې د کلیوالو ښوونځیو په پرتله خورا ډیرې وې (۷۴.۴٪ او ۸۵.۵٪) د کلیود ښوونځیو د ۱۹.۸٪ په پرتله).

د اعتراضونو د یوې بلې بڼې لکه په دیوالونو باندې لیکل او رسم ایستل د مرکه ورکوونکو د معلوماتو پر بنسټ خورا ډیر تو پیر درلود: په ملی کچه د مرکه ورکوونکو ۳۸.۲ ٪ مثبت ځواب وړاندې کړ، په شپږو ولایتونو کې (لکه کندهار، هلمند، غزنی، لغمان، ننګرهار، کونړ) مرکه ورکوونکو د داسې پیښو په اړه هیڅ راپوررونه کړ، خو په درې نورو ولایتونو کې ټولو مرکه ورکوونکو ادعا کوله چې د دوي د ښوونځیو په دیوالونو باندی لیکنی او انځورونه لیدل کیږی (بغلان، کابل، پروان). په پاتی ۹ ولایتونو کې د دا ډول لیکنو شتون په کندز کې ۳ ٪ او په کاپیسا کی د ۹۰٪ ترمینځ دي.

د سیاسی ډلو او ګوندونو له خوا د جلب او جذب په اړه ډیرو مرکه ورکوونکو مثبت ځوابونه ورکړل چې په ملی کچه ۵۲.۳ ٪ جوړوي: یوازې په لغمان کې هیڅ مرکه ورکوونکي په خپلو ښوونځیو کې د جلب او جذب د فعالیتونو کومه بیلګه وړاندې نه کړه. د لوګر، ننګرهار او بلخ مرکه ورکوونکو د سیاسی جلب او جذب په اړه ډیرې لږ پیښې یادې کړي، په داسې حال کې چې په دوه ولایتونو (تخار او کندهار) کې د مرکه ورکوونکو له ۹۰٪ ډیرو په دې هکله مثبت ځوابونه ورکړل. د یادونې وړ ده چې دا ډول فعالیتونه لږ بربنډیږي، ځکه کیدای شی چې په آسانتیا سره د عامه وګړو له لید څخه پټ پاتې شي. (مل ریپوټ وګورئ).

د سیاسی فعالیت ډیره عامه بڼه چې د هیواد په سروی شوو ښوونځیو کې څرګنده شوه سیاسی بحثونه دي چې زده کوونکي له یو بل سره سیاسی مباحثې کوي: ۹۶.۷٪ مرکه ورکوونکو وویل چې داسې مباحثې د دوی په ښوونځیو کې صورت مومي. د بحث د موضوع په هکله د ۲۰۱۴ کال ټولټاکنې خورا ډیرې عامې وې چې په ملی کچه د مرکه ورکوونکو ۹۶.۷ ٪ مثبت ځوابونه ورکړل او په هیڅ ولایت کې د مثبت ځواب ورکوونکو کچه له ۸۰ ٪ څخه لږ نه وه؛ په ډیرو ولایتونو کې د مرکه ورکوونکو ۱۰۰ ٪ تایید کړه چې داسې بحثونو د دوی په ښوونځیو کې صورت موندلی دی.

بله د بحث توده موضوع په افغانستان کې د بهرنیو موجودیت وو: یوازې په کاپیسا او بلخ کې د هغو ځواب ورکوونکو شمیر چې د بهرنیو حضور یې تائید کړ ۱۸ ٪ او ۳.۲ ٪ وه، په داسې حال کې چې په کابل کې دغه کچه ۴۲.۵ ٪ ته رسیدله. په نورو ټولو ولایتونو کې د تائید یا مثبت ځواب کچه له ۷۵ تر ۱۰۰ ٪ پورې وه. په ملي کچه د مثبت ځواب اندازه چې ۸۰.۸ سلنه وه د ښارونو په مینځ کې لوی توپیر چیری چې دا موضوع لږ عامه ده (۶۰.۳٪)، او ښارګوټو او کلیوالو سیمو کې (چې ۸۸.۵ ٪ او ۷۹.۴ ٪ ده) پټوی.

د اسلام او غربي کیدلو په اړه مشاجرو یوازې په ځینو ولایتونو لکه هرات، بدخشان، بغلان او کندز کې عمومیت درلود (له ۵۰ ٪ مثبتو ځوابونو څخه لوړ)، په داسې حال کې چې په نورو ولایتونو لکه کابل، وردک، لوګر، ننګرهار، کاپیسا او بلخ کې د داسې مشاجرو هیڅ ریپوټ نه دی ورکړ شوی. په ملی کچه، مثبت ځوابونه ۴۱.۹ ٪ وو، خو په ډیرو ښارګوټو کی (۵۰٪)، ښارونو کې (۳۷.۱ ٪) او

کلیوالو سیمو کې (۳۰.۲ ٪) وه. په افغانستان کې د لویدیځو هیځو قوتونو نقش او اغیزه داسې یوه موضوع ده چې په کیفی مرکو (ژوره مرکو ) کې معلومیږي. (مل رپوټ وګوری).

په ملي کچه د **۲۹.۹** ٪ مثبتو ځوابونو ته په کتنې سره، د ښځو حقوق د راپورونو پراساس په څو ښوونځیو کې تر بحث لاندی نیول شوي دي: په دری ولایتونو (هرات، غزنی او هلمند ) کې د ځوابونو **۵۰** ٪ څرګندوی چې دا ډول بحثونه د هغوی په ښوونځیو کې روان دي، که څه هم په درې نورو ولایتونو کې د ښځو د حقونو په اړه هیڅ ډول بحثونه شتون نه لري. له حیرانتیا پرته دا مسئله د ښارګوټو په پرتله (په ښارګوټو کې **۲۲.۸** ٪ او په کلیوالو سمیو کې **۲۸.۲** ٪) په ښارونو کې (**۴۱**٪) ډیره تر بحث لاندې نیول کیږي. په هر صورت مرکه ورکوونکو نه غوښتل چې د ښځو د حقونو په اړه په تفصیل سره خبرې وکړی (مل رپوټ وګوری).

د ژبې د موضوع په اړه بحثونه (په تیره بیا د پښتو او دري په اړه ) په هغو ولایتونو کې چې غیر پښتانه ډیر دي خورا ډیر معمول بریښي او په ملی کچه د ځوابونو **۳۲.۵** ٪ جوړوي. دا موضوع په ښارونو کې (**۴۲.۲** ٪) د ښارګوټو او کلیوالو سیمو په تناسب (په ښارګوټو کې **۳۷.۱** ٪ او کلیوالو سیمو کې **۲۹.۴** ٪) ډیر شتون لري.

په پای کې باید وویل شي چې سیاسي فساد په نسبی توګه ډیر عام د ، که څه هم په داسې یو هیواد کې چې له ستونزو څخه په ژوره توګه متاثر شوی وي، ددې موضوع تمه لا ډیره لیدل کیږی. د بیلګی په توګه **۵۰.۵** ٪ ځواب ورکوونکو وویل چې دا مساله د دوی په ښوونځیو کې د بحثونو او مناقشو موضوع ده او کچه یې په ښارونو کی **۵۷.۷**٪ او ښارګوټو او کلیوالو سیمو کې په ترتیب سره **۵۳.۱** ٪ او **۴۱.۳** ٪ ته رسیږي. په داسې حال کې چې په شپږو ولایتونو کی مثبت ځوابونه ۹۰ ٪ ته رسیږي، په یوه ولایت (غزنی ) کې ټولو انکار کاوه چې داسی مناقشې د دوی په ولایت کې بیخی شتون نه لري او په پنځو نورو ولایتونو کې مثبت ځوابونه له ۲۰ ٪ څخه لږ وو. (څلورم جدول)ږ

څلورم جدول: د سیاسی بحثونو موضوعګاني

| ولایتونه | د ټولټاکنو په اړه سیاسی بحثونه | د ښځو حقونه | اسلام او غربی کیدل | په افغانستان کې د بهرنیو شتون | د ژبې لکه دري او پښتو مساله | سیاسی فساد | نور |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زابل | ۸۲٫۲٪ | ۴۳٫۵٪ | ۲۵٫۲٪ | ۹۱٫۳٪ | ۴٫۳٪ | ۲۲٫۱٪ | ۰٫۰٪ |
| کندهار | ۹۴٫۳٪ | ۴۵٫۷٪ | ۴۸٫۲٪ | ۹۱٫۴٪ | ۵٫۷٪ | ۳۱٫۴٪ | ۰٫۰٪ |
| هلمند | ۱۰۰٫۰٪ | ۷۰٫۲٪ | ۴۷٫۱٪ | ۱۰۰٫۰٪ | ۲۳٫۵٪ | ۲۳٫۵٪ | ۰٫۰٪ |
| غزنی | ۱۰۰٫۰٪ | ۲۲٫۵٪ | ۱۲٫۵٪ | ۷۵٫۰٪ | ۱۸٫۸٪ | ۰٫۰٪ | ۰٫۰٪ |
| پکتیا | ۱۰۰٫۰٪ | ۸٫۳٪ | ۲۵٫۰٪ | ۱۰۰٫۰٪ | ۱۲٫۷٪ | ۱۲٫۷٪ | ۲۵٫۰٪ |
| لوګر | ۱۰۰٫۰٪ | ۰٫۰٪ | ۰٫۰٪ | ۹۳٫۸٪ | ۰٫۰٪ | ۲۵٫۰٪ | ۰٫۰٪ |
| د کابل ولسوالۍ | ۱۰۰٫۰٪ | ۰٫۰٪ | ۰٫۰٪ | ۴۲٫۵٪ | ۱۰۰٫۰٪ | ۱۰۰٫۰٪ | ۰٫۰٪ |
| د کابل ښار | ۱۰۰٪ | ۲۳٪ | ۲۸٪ | ۸۲٪ | ۵۹٪ | ۷۷٪ | ۱۰۰٪ |
| وردک | ۱۰۰٫۰٪ | ۲۰٫۰٪ | ۰٫۰٪ | ۱۰۰٫۰٪ | ۰٫۰٪ | ۱۰٫۰٪ | ۰٫۰٪ |
| کاپیسا | ۸۱٫۸٪ | ۳۲٫۴٪ | ۰٫۰٪ | ۱۸٫۲٪ | ۰٫۰٪ | ۹۰٫۹٪ | ۰٫۰٪ |
| پروان | ۱۰۰٫۰٪ | ۰٫۰٪ | ۱۱٫۱٪ | ۱۰۰٫۰٪ | ۳۳٫۳٪ | ۸۸٫۹٪ | ۰٫۰٪ |
| کونړ | ۱۰۰٫۰٪ | ۳۱٫۳٪ | ۲٫۳٪ | ۱۰۰٫۰٪ | ۲٫۳٪ | ۱۲٫۵٪ | ۰٫۰٪ |
| لغمان | ۱۰۰٫۰٪ | ۲۵٫۰٪ | ۲٫۳٪ | ۱۰۰٫۰٪ | ۲٫۳٪ | ۱۲٫۵٪ | ۰٫۰٪ |
| ننګرهار | ۱۰۰٫۰٪ | ۳۸٫۱٪ | ۰٫۰٪ | ۹۵٫۲٪ | ۱۴٫۳٪ | ۱۴٫۳٪ | ۹٫۵٪ |
| تخار | ۱۰۰٫۰٪ | ۲۳٫۳٪ | ۱۰۰٫۰٪ | ۹۳٫۳٪ | ۹۰٫۰٪ | ۷۰٫۰٪ | ۳٫۳٪ |
| کندز | ۱۰۰٫۰٪ | ۲۲٫۷٪ | ۲۳٫۳٪ | ۷۰٫۰٪ | ۷۰٫۰٪ | ۸۳٫۳٪ | ۳٫۳٪ |
| بغلان | ۱۰۰٫۰٪ | ۲٫۷٪ | ۹۲٫۷٪ | ۱۰۰٫۰٪ | ۹۰٫۰٪ | ۹۲٫۷٪ | ۰٫۰٪ |
| بدخشان | ۱۰۰٫۰٪ | ۱۴٫۳٪ | ۸۵٫۷٪ | ۹۰٫۵٪ | ۳۸٫۱٪ | ۹۰٫۵٪ | ۰٫۰٪ |
| بلخ | ۱۰۰٫۰٪ | ۳۵٫۷٪ | ۰٫۰٪ | ۳٫۲٪ | ۷۵٫۰٪ | ۷۱٫۴٪ | ۰٫۰٪ |
| هرات | ۱۰۰٫۰٪ | ۲۷٫۸٪ | ۸۷٫۵٪ | ۹۳٫۸٪ | ۵۰٫۰٪ | ۹۳٫۸٪ | ۸۷٫۵٪ |
| کلیود ښوونځي | ۹۲٫۰٪ | ۲۸٫۲٪ | ۳۰٫۲٪ | ۷۹٫۴٪ | ۲۹٫۴٪ | ۴۱٫۳٪ | ۱٫۲٪ |
| د ښارګو ښوونځی | ۹۲٫۹٪ | ۲۲٫۸٪ | ۵۰٫۰٪ | ۸۸٫۵٪ | ۳۷٫۱٪ | ۵۳٫۱٪ | ۳٫۱٪ |
| د ښار ښوونځی | ۹۷٫۴٪ | ۴۱٫۰٪ | ۳۷٫۱٪ | ۲۰٫۳٪ | ۴۲٫۲٪ | ۵۷٫۷٪ | ۳۸٫۵٪ |
| ټول ښوونځی | ۹۲٫۷ | ۲۹٫۹ | ۴۱٫۹ | ۸۰٫۸ | ۳۲٫۵ | ۵۰٫۵ | ۹٫۱ |

# ۵. په ښوونځیو کې فعالې سیاسي ډلې

اسلامي ډلې (زمونږ د تعریف په اساس دوا ړو اسلام پلوه او بنسټپاله ډلو ته وایي) له شک پرته په لوړو ښوونځیو کې ډیرې فعالې دي. په ملي کچه ۸۱.۹ ٪ ځواب ورکوونکو د هغوی شتون تائید کړ. د مثبتو ځوابونو ډیره ټیټه سلنه (۵۰٪) په غزني کې وه؛ په نورو ټولو ولایتونو کی نوموړې کچه له ۶۰ تر ۱۰۰٪ پورې وه (پنځم جدول). هغه دوه ډوله سیاسي ډلې چې په لوړو ښوونځیو کې په پراخه کچه فعالې ګڼل کیږي قومي ناسیونالیستي ډلې او تر ټولو ډیرې په اصطلاح جهادي ډلې دي (هغه ډلې چې د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ کلونو د کورنیو جګړو عمده مخکښې ډلې شمیرل کیدلي). قومی نشنالیستي ډلې په شمال ختیځو ولایتونو کې ډیرې ګڼل کیدي چې شمیر یې له ۷۵ سلنې لږ نه وو. د بیلګې په توګه د ځواب ورکوونکو ۵۱.۴ ٪ په دغو ډلو کې شمیرل کیدل. لوړه سلنه (له ۵۰ سلنی ډیر) په ننګرهار، کندهار او هلمند ولایت کې چې هیڅ یوه ئې هم له قومی- نشنالیستی ډلو څخه د اوږد ملاتړ دود او عنعنه نه درلوده، تر سترګو شوي ده. لکه چې د مل رپوټ په کیفی مرکو کې لیدل کیږي، دغه اسلامي ډلې په افغانستان کې له سیاسی جوړ شوې سیستم سره په ډیره اندازه مخالفت لري.

پنځم جدول: د نوعیت پراساس د سیاسي ډلو ریپوټ شوی موجودیت

| ولایتونه | اسلامي ډلې | قومي نشنالیستي ډلې | مائوئیستان او نورې چپي ډلې | هغه ډلې چې د کورنیو جګړو له ملیشه وو څخه رامینځ ته شوي دي | لیبرال او دموکراتیکي ډلې |
|---|---|---|---|---|---|
| زابل | ۹۵,۷٪ | ۱۸,۲٪ | ۹,۵٪ | ۸۱,۰٪ | ۴,۵٪ |
| کندهار | ۸۰,۰٪ | ۲۸,۲٪ | ۴۰,۰٪ | ۸۰,۰٪ | ۵,۸٪ |
| هلمند | ۸۸,۲٪ | ۲۴,۷٪ | ۴۷,۱٪ | ۹۴,۱٪ | ۵,۹٪ |
| غزني | ۵۰,۰٪ | ۱۲,۵٪ | ۰,۰٪ | ۷۵,۰٪ | ۱۲,۵٪ |
| پکتیا | ۹۱,۷٪ | ۴۱,۷٪ | ۰,۰٪ | ۵۸,۳٪ | ۸,۳٪ |
| لوګر | ۷۵,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۵۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| وردک | ۸۰,۰٪ | ۲۵,۰٪ | ۰,۰٪ | ۹۵,۰٪ | ۰,۰٪ |
| د کابل ولسوالۍ | ۷۲,۵٪ | ۵,۰٪ | ۰,۰٪ | ۸۷,۵٪ | ۰,۰٪ |
| د کابل ښار | ۹۰,۹٪ | ۷۲,۷٪ | ۴۵,۵٪ | ۵۹,۰٪ | ۵۴,۵٪ |
| کاپیسا | ۱۰۰,۰٪ | ۹,۱٪ | ۰,۰٪ | ۸۱,۸٪ | ۰,۰٪ |
| پروان | ۱۰۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۱۰۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| کونړ | ۸۱,۳٪ | ۵۰,۰٪ | ۱۸,۸٪ | ۵۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| لغمان | ۲۲,۵٪ | ۳۱,۳٪ | ۰,۰٪ | ۸۱,۳٪ | ۲,۳٪ |
| ننګرهار | ۲۱,۹٪ | ۵۷,۱٪ | ۱۹,۰٪ | ۴۷,۲٪ | ۰,۰٪ |
| بلخ | ۲۷,۹٪ | ۷,۱٪ | ۳۲,۱٪ | ۷۵,۰٪ | ۰,۰٪ |
| تخار | ۱۰۰,۰٪ | ۱۰۰,۰٪ | ۱۰,۰٪ | ۱۰۰,۰٪ | ۲۳,۳٪ |
| کندز | ۹۰,۰٪ | ۸۲,۷٪ | ۳,۳٪ | ۹۰,۰٪ | ۱۰,۰٪ |
| بغلان | ۹۲,۷٪ | ۹۲,۷٪ | ۳,۳٪ | ۱۰۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| بدخشان | ۷۲,۲٪ | ۷۱,۴٪ | ۰,۰٪ | ۹۰,۵٪ | ۱۹,۰٪ |
| هرات | ۸۱,۳٪ | ۱۲,۵٪ | ۱۲,۵٪ | ۱۰۰,۰٪ | ۱۸,۸٪ |
| کلیوالي ښوونځي | ۷۷,۸٪ | ۴۲,۸٪ | ۱۲,۷٪ | ۷۲,۲٪ | ۲,۳٪ |
| د ښارګوټي ښوونځي | ۸۴,۲٪ | ۵۲,۲٪ | ۱۴,۵٪ | ۸۴,۲٪ | ۹,۲٪ |
| د ښار ښوونځي | ۸۲,۰٪ | ۴۴,۹٪ | ۴۴,۹٪ | ۴۷,۴٪ | ۱۹,۲٪ |
| ټول ښوونځي | ۸۱,۹٪ | ۵۱,۴٪ | ۲۰,۲٪ | ۷۵,۴٪ | ۱۰,۲٪ |

"جهادي" ډلې په ټولو ولایتونو کې تل د مرکه ورکوونکو د ۵۰ سلنی له خوا د هغوی په ښوونځیو کې فعالې شمیرل کیدلې، پرته له ننګرهار څخه چې هلته یی سلنه ۴۷.۲ ٪ وه. په څو ولایتونو کې ټولو مرکه ورکوونکو پخپلو ښوونځیو کې د جهادي ډلو شتون ته اشاره کوله (هرات، بغلان، تخار، پروان). په ملي کچه د ځواب ورکوونکو ۷۵.۴ ٪ د هغو د شتون په اړه رپوټ ورکړ. هغوی په ښارونو کې(۴۷.۴ ٪) د ښارګوټو (۸۴.۲ ٪) او کلیوالو سیمو (۷۲.۲ ٪) په پرتله لږ دي. دغه جهادي ډلې اکثرا خپل ځانونه له اوسني حالت سره سم معرفی کوي او کیدای شي د تاسیس شوو ګوندونو په توګه وپیژندل شی (مل رپوټ وګورئ).

داسې بریښي چې چپ پلوه (چپی) ډلې په لیسو کې کمزوری شتون لري او د هغوی موجودیت د ځواب ورکوونکو یوازې ۲۰.۲ سلنه تاییدوی. داسې معلومیږي چې دا ډلې د ښارګوټو (۱۴.۵ ٪) او کلیوالو سیمو (۱۲.۷ ٪) په پرتله په ښارونو کې(۴۴.۹ ٪) ډیرې فعاله دي. یوازې هغه ولایتونه چې ددې ډلو فعالیتونه یې غیر موجود او بی اهمیته نه ګڼل د بلخ، کندهار، هلمند، کونړ اوننګرهار ولایتونه وو. د لبرالانو، دموکراتانو او مترقی ډلو شتون چې مرکه ورکوونکو یوازې ۱۰.۲ ٪ د هغوی په اړه رپوټ وړاندې کړی، کمزوری بریښي: یوازی غزنی، تخار، کندز، بدخشان او هرات نوموړې ډلې لري چې د مرکه ورکوونکو له ۱۰٪ څخه ډیرو په دې هکله معلومات وړاندې کړي دي. د حیرانتیا وړ نه ده چې دغه ډلې په ښارونو کی (۱۹.۲ ٪)، په ښارګوټو کې (۹.۲ ٪) او کلیوالو سیمو کې (۲.۳ ٪) پیدا کیږي. د دغو ډلو شتون هومره کمزوری دی چې د تحقیق او څیړنې ډلې هڅه وکړه چې هر څوک د مرکې لپاره ولټوي.

شپږم جدول: په ښوونځیو کې فعالې لیبرالې او مترقي ډلې

| ولایتونه | د حق او عدالت ګوند | افغانستان ۱۴۰۰ | افغانی پوهه او تحلیل | مخ په وړاندی افغانستان | جمهوری ګوند | شنه تګلاره (امر الله صالح) | نور |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زابل | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| کندهار | ۵,۸٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| هلمند | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| غزنی | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۱۲,۵٪ | ۰,۰٪ |
| لوګر | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| پکتیا | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۸,۳٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| د کابل ولسوالۍ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| د کابل ښار | ۳۲,۴٪ | ۲۲,۷٪ | ۱۸,۲٪ | ۰,۰٪ | ۳۱,۸٪ | ۹,۱٪ | ۴,۵٪ |
| وردک | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| کاپیسا | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| پروان | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| کونړ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| لغمان | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۲,۳٪ | ۰,۰٪ |
| ننګرهار | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| تخار | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۳,۳٪ | ۰,۰٪ | ۱۰,۰٪ | ۱۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| کندز | ۳,۳٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۳,۳٪ | ۳,۳٪ | ۳,۳٪ |
| بغلان | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| بدخشان | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۹,۲٪ | ۰,۰٪ | ۱۴,۳٪ |
| بلخ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| هرات | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۱۲,۵٪ | ۲,۳٪ | ۱۸,۸٪ |
| کلیوالي ښوونځي | ۲٪ | ۰٪ | ۱٪ | ۰٪ | ۱٪ | ۰٪ | ۰٪ |
| د ښارګوټي ښوونځي | ۲٪ | ۱٪ | ۱٪ | ۱٪ | ۳٪ | ۴٪ | ۲٪ |
| د ښار ښوونځي | ۱۳٪ | ۲٪ | ۵٪ | ۰٪ | ۱۰٪ | ۴٪ | ۳٪ |
| ټول ښوونځي | ۳,۹ | ۱,۲ | ۱,۸ | ۰,۵ | ۳,۷ | ۲,۵ | ۱,۴ |

که چیری په پوره تفصیل سره هغو سیاسی ډلو ته چې په ښوونځیو کې فعالې دی وګورو، نو درې د ډیرو غړو لرونکې ډلې د جمعیت اسلامی، طالبان او د حکمتیار اسلامی ګوندونه دي. هغوی په ترتیب سره د مرکه کیدونکو ۵۸.۳ ٪، ۵۵.۱ ٪- ۲۱.۸ ٪ او ۴۱ سلنه مثبت ځوابونه لاس ته راوړي دي. مونږ په دی سروې کې جمعیت د "اسلامي ډلو" په کتار کې شمیرلی نه دی، ځکه چې دې ګوند خپل ډیر پخواني اسلامي خصوصیات له لاسه ورکړي او نن ورځ نورو ټولو هغو ګوندونو ته ورته ښکاري چې هڅه کوي د سیاسي منظرې په مرکز او مینځ کې ځای پیدا کړي. اسلامي ګوند یو ځانګړی حالت لري ځکه چې له دوو ځانګو څخه جوړ دی چې دواړه یې په لیسو کې فعال دي: یوه برخه یې په قانوني توګه ثبت شوې او د "هغو ګوندونو په کتار کې شمیرل کیږی چې په کورنۍ جګړو کې ښکېل وو"، او بله برخه یې په یاغیتوب کې بوخته ده. دې موضوع د مرکه ورکوونکو په کتار کې یو ډول ګډوډي رامینځ ته کړي او کیدای شي د نوموړي ګوند په باره کې د تضاعف او تداخل سبب شوي وي. په هر حال ډیرو ځواب ورکوونکو اسلامي ګوند ته د یو ملیشه- جهادی تشکیل په توګه کتل چې د یو اسلامی ګوند پرځای لکه جمعیت د سیاسی فرصت په لټه کې دی (د ۵۵.۱ ٪ پرځای ۲۱.۸ ٪ مثبت ځوابونه). د نوموړي ګوند شتون ددې خیړنې لپاره په هر سروی شوی ولایت کې په پراخه توګه انعکاس موندلی دی. په دې اړه یوازنۍ استثناء د هرات ولایت دی چې یوازې ۱۲.۵ سلنې ځواب ورکوونکو وویل چې پخپلو ښوونځیو کې ئې د نوموړي ګوند شتون یا پخپله لیدلی او یا یې د هغه په اړه اوریدلي دي.

حیرانوونکې خبره دا ده چې په خورا ډیرو پیښو کې په لوړو ښوونځیو کې د طالبانو د فعالیت په اړه ریپوټونه شتون لري او ویل کیږي چې هغوی د افغان حکومت له خوا د یاغیتوب پرضد هڅو کې عمده هدف شمیرل کیږي. د حیرانتیا وړ نه ده چې طالبان د ښارګوټو د ښوونځیو (۴۳ ٪) او د کلیوالو سیمو په پرتله (۴۵.۲ ٪) د ښارونو په ښوونځیو کې (۲۸.۲ ٪) لږ فعال دي. په داسې حال کې چې د ریپوټونو پراساس په لوګر، بدخشان او بلخ کې طالبان نشته، خو د جندوالله ډله چې د طالبانو یوه ځانګه ده او تر یوې اندازې له طالبانو څخه داخلی واک لری د بدخشان په ډیرو ښوونځیو او همدا رنګه د شمال ختیځو ولایتونو په ټولو ښوونځیو کې شتون لري. د ځواب ورکوونکو په خبره د جندوالله شتون ۱۸.۱ ٪ دی، خو د هغوی شتون په شمال ختیځ کې متمرکز ده چې تر ۷۰ سلنې ډیر ګڼل کیږي. په لوړو ښوونځیو کې د طالبانو پراخ شتون تر یوې کچې د حیرانتیا وړ ده، ځکه چې دې ډلې ته تر ډیرې کچې د یو روحانی خوځښت په سترګه کتل کیږی چې مدرسې یې د پرمختیا ځایونه دي. خو په هر صورت په وروستیو کلونو کې طالبانو خپل جلب او جذب لوړو ښوونځیو ته پراخ کړی دی چې په دې لار کې یې بریالیتوب هم لاس ته راوړی دی(اووم جدول).

اووم جدول: په ښوونځیو کې فعالې اسلامي ډلې

| ولایتونه | اسلامی ګوند | جمعیت الاصلاح | حزب التحریر | طالبان | جند ولا | نور |
|---|---|---|---|---|---|---|
| زابل | ۶۵,۲٪ | ۴۳,۵٪ | ۴,۳٪ | ۸۷,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| کندهار | ۶۰,۰٪ | ۱۴,۳٪ | ۰,۰٪ | ۶۸,۶٪ | ۰,۰٪ | ۵,۷٪ |
| هلمند | ۸۸,۲٪ | ۵,۹٪ | ۰,۰٪ | ۴۷,۱٪ | ۰,۰٪ | ۱۱,۸٪ |
| غزنی | ۲۵,۰٪ | ۳۱,۳٪ | ۵۰,۰٪ | ۴۳,۸٪ | ۰,۰٪ | ۲۵,۰٪ |
| پکتیا | ۶۶,۷٪ | ۰,۰٪ | ۸,۳٪ | ۸۳,۳٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| لوګر | ۳۱,۳٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۷۵,۰٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ |
| د کابل ولسوالۍ | ۱۰,۰٪ | ۶۰,۰٪ | ۵۵,۰٪ | ۱۵,۰٪ | ۰,۰٪ | ۱۵,۰٪ |
| د کابل ښار | ۹,۱٪ | ۵۹,۱٪ | ۵۴,۵٪ | ۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۸۱,۸٪ |
| وردک | ۸۰,۰٪ | ۲۰,۰٪ | ۱۵,۰٪ | ۴۰,۰٪ | ۰,۰٪ | ۲,۵٪ |
